ډاکټر محمدآجان مرزی


۲۰۱۶/۰۵/۱۱

# ورکه لار

لار ده رانــه ورکــه په تيارو کې زه رڼا لټوم
وير د تــورو شپو کې د امــيد يوه ځــلا لټوم

ګورم ســمندر د تــظاهر ته په حــيرت کې يم
لوړې د سيلاب څپې مــوجونــو کې پناه لټوم

اور د نفرت بــل تنها ولاړ لــمبې اوچتې دي
اوښــکو د لېمو کې د زړګي يــوه خــندا لټوم

نه غــواړم ذکــرونه اطاعت د زاهــدانو نور
ړنګو ميــخانو کې د صــفا ښکلې مــينا لټوم

ګورم نقابونو د انســان ته پټ مــخونه شــول
نشته ده رښتيا لــه بې درواغــو تــماشا لټوم

سيورې د غمونو کې حيران ولاړ په لاره يم
زړونه تش له مينې په زهرونو کې دوا لټوم

لاړل عــاقلان له جــاهلانو  سترې زړه شولو
جــام د ميو ورك رانــه رنــدانو کې آشنا لټوم

خــوند نشته سندرو په نڅا او په راګونو کې
ورك يــم لالهان په وچو دښتو کې بورا لټوم

نه يــمه ابتر نــه ليونی چی بــيابان کړم خپل
څم خــاورو ايرو کې د هستئ بــله عنقا لټوم

نور نشته راګير د خرافاتو په ظلمت کې يم
ذکر د درويش کې د عرفان ښکلې رڼا لټوم






افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ